مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۱۲/۱۹

# اساني د کور وراني

### د ځېړنې يو آفت

په دې ورځو کې څه ښاغلي يا اغلې راته تيليفون کوي، وايي: پر پلاني موضوع مې تيسېس اخيستی، نو که پر دې موضوع راته يوڅه وليکې يا يې په واتساپ کې راته ثبت کړې، زه به يې په خپل تيسېس کې ستا د نظر په توګه ثبت کړم.

زه د حيا له مخې ورته ويلای نه شم، چې ته نو څه کوې؟

خو حيران شم، چې په څېړنه کې دا څه ډول بېدودي ده؟

زه لا هم نه‌پوهېږم دغه پوهنتونونه څنګه د يو چا شفاهي څرګندوني د باوروړ سرچينې په توګه مني؟

او ښاغلی/ اغلې څېړونکی/ څېړونکې به د يوه او بل نظر څنګه اخځ کوي؟

موږ په څېړنپوهنې کې د څېړنې د سرچينو له نظره کتابتوني، لابراتواري، او ساحوي څېړنې پېژاندې، روسته پرې د سروې ګانو او پوښتنپاڼو پربنسټ څېړندود هم ورزيات شو، چې د ځينو څېړنپوهانو له نظره د سروې‌ګانو او پوښتنپاڼو پربنسټ څېړنه هماغه د ساحوي يا فيلډ ريسرچ برخه ده.

خو زموږ اوسني څېړونکي د کتابتوني څېړنې لپاره هم د متخصصانو نظريات شفاهي پوښتي.

دا کار دوه لاملونه لري، لومړی دا، چې څېړونکي په کتابونو پسې ګرځېدلای نه‌شي او لوستلو ته يې زړه تنګيږي. دويم لامل يې دا کېدلای شي، چې دوی د خپل تيسېس لپاره خپل بنسټي نظر نه لري او که د علمي جدال په کوم بهير وربرابر شي، پخپله هم نه پوهيږي، چې کومه خوا ونيسي؟

د ساحوي څېړنې په لمن کې د سروې ګانو يا پوښتنپاڼو ډکولو د ميتود له مخې ترلاسه شوې ډېټا يا معلومات هغه وخت سرچينه ګڼلای شي، چې د څېړنې وړ موضوع کتابتوني مخينه ونه‌لري، پر روانو چارو متمرکزه وي، يا د خلکو له شفاهي نظرياتو سرچينه اخلي، يا يې په اړه غواړو د نن و سبا پر وضعيت پوه شو. خو که تاسو غواړئ، مثلاً په افغانستان کې د مشروطيت په اړه څه وليکئ، بيا نو د ژونديو پوهانو پرځای بايد ټول تاريخي متون ولولئ او له پرتليز ميتود کارولو يې حقيقت ته ځان ورسوئ.

د هېڅ متخصص شفاهي نظر - په تېره بيا تحليلي هغه د باور وړ نه دی، مګر دا، چې د (هو) يا (نه) تر بريده کوټلی او قاطع ځواب وغواړې.

ګرانو څېړونکيو،

تر هرڅه وړاندې داسې موضوع د څېړنې لپاره وټاکئ، چې مينه ورسره لرئ او يو بنسټي نظر درسره وي. خپل بنسټي نظر د څېړنې په ټول بهير کې وپالئ. په څېرنو کې ښايي خپل نظر وسپړل شي او تر ځان وړاندې سرچينو باندې يوازې هغه وخت حواله ورکړئ، چې د څېړنې پر مهال تر تاسو پورې شوی کار څرګندولای شي.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د کتابتوني څېړنې په برخه کې تر وسه وسه کتابتون او کتاب ته ورننوځئ، له لاربښودو استادانو او نورو متخصصو یوازې د میتودولوژی، علمي سرچینو پلټنې او نورو بنسټي څېړنیزو مسایلو په اړه پوښتنه کولای شئ. داسې مه‌کوئ، چې د خپل تیسېس ټول متن د نورو له شفاهي نظریاتو بشپړ کړئ.

کتابتوني څېړنه په ټاکل شوې څېړنځانګه کې ستاسو وړتیا زیاتوي او تر بشپړتیا روسته مو داسې ځانګېزې پوهې ته رسوي، چې په همدې برخې که به د روستۍ پرېکړې صلاحیت ولرئ.

د ضد و نقیض جوابونو په بوړبوکیو کې مه ځان ورکوئ او نه لوستونکی.

د ژورنالیزم په ډګر کې د پوښتنو ګرویږنو په پایله کې د ټولنیز ذهنیت تګلوری څرګندول او په علمي اکاډمیک ډګر کې یوې پوهنیزې پایلې ته رسېدل زمکه و اسمان توپیر سره لري.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ